# د متاثرینو د واپس نۀ تللو یوه بله وجه او لاشونه ځوړندول

مشتاق مجروح یوسفزے

د «راه راست» اپرېشن د کامیابۍ نه پس حکومت د سوات، ملاکنډ، دیر او بونېر د متاثرینو وطن ته د ستنولو اعلان وکړو او د جولایۍ په دیارلسم تاریخ د دوي ورومبنے کاروان روان شو. په دې سخته ګرمۍ کښې چې کوم تکلیفونه زمونږ دې بې کوره شوو ورونړو، خوېندو برداشت کړل هغه د هېرېدو نۀ دي خو دا د الله پاک شکر دے چې د دوي دې خوارۍ ځائے ونیولو او دا دے هغه وخت راورسېدو چې دغه خلق خپل کورونو ته د قافلو په شکل کښې د فوځ په نګرانۍ کښې روانېدل شروع شوي دي او دا عمل ښۀ په زور او شور کښې روان دے.



د متاثرینو خپلو کورونو ته ستنول یوه لویه کارنامه ده. خو دې دوران کښې په الیکټرانک او پرنټ مېډیا ډېر داسې خبرونه هم راغلل چې متاثرین په یو څو وجو واپس تللو ته بېخي تیار نۀ دي او وائي چې مونږ ته پینځویشت زره روپۍ نۀ دي راکړې شوې او بل دا چې تر اوسه د دهشت ګردو نه ملک صفا شوے نۀ دے، د عسکریت پسندو مشران تر اوسه ژوندي ګرځي.

دا حقیقت دے چې ټولو متاثرینو ته دغه رقم نۀ دے ورکړے شوے خو د دغې رقم ادائیګۍ د حکومت له اړخه شروع ده، بنده شوې نۀ ده. د حکومت وینا ده چې په هغې کښې د تاخیر ګڼې وجې دي چې ورو ورو به ټولې حل شي او ټولو متاثره خلقو ته به دغه رقم ورکړے شي. بل څومره پورې چې هلته د امن قائمېدو خبره ده نو هر څو کۀ په دغې متاثره علاقو کښې لا سل فیصده امن نۀ دے راغلے خو دومره شوې ده چې حکومتي رټ بحال شوے، د دهشت ګردو ملا ماته شوې ده، د دوي د

نیټ ورک او مرکزي قیادت رابطې ختمې شوې دي او حوصلې ئې کمزورې شوې دي. کوم دهشت ګرد چې پاتې دي هغوي په غرونو او درو کښې پټ شوي دي او فوځ لګیا دے هغوي په نخښه کوي او ګرفتاروي ئې او غالب امکان دے چې ډېر زر به دغه ټولې علاقې پاکې کړې شي. د متاثرینو د واپسۍ نه پس چې فوځ کوم خلق نیولي یا وژلي دي د هغې خبرونه روزانه په اخبارونو کښې د ټولو خلقو د نظره تېرېږي.

اکثرو اخبارونو او پرائیوېټ چېنلو د متاثرینو د واپس نۀ تللو دا دوه وجې خو بیان کړي دي او بیا بیا ئې بیانوي چې هغوي ته امدادي رقم نۀ دے ورکړے شوے. خو دا خبره هېڅوک نۀ کوي چې په دې متاثره خلقو کښې کوم دهشت ګرد یا د هغوي سره تعلق لرونکي خلق راغلي وو، هغوي هغه وخت د دغې علاقو نه په راوتلو کښې خو کامیاب شوي وو خو اوس په واپسۍ کښې د هغوي د نیولو خطره ډېره زیاته ده ځکه چې فوځیان د واپس تلونکو سخت چېکنګ کوي. په متاثرینو کښې د دهشت ګردو راتلل څۀ پټه پناه خبره نۀ ده تر اوسه سیکورټي ایجنسو د مختلفو کېمپونو نه ګڼ داسې دهشت ګرد ګرفتار کړي دي چې هغوي رجسټرېشن هم حاصل کړے وۀ. خو د ایجنسو دا کارروایۍ زیاتره د کېمپونو پورې محدودې وې. کوم متاثرین چې په صوابۍ، مردان، نوښار او پېښور کښې خلقو په خپلو ځایونو کښې دېره کړي وو په هغوي کښې هم د دهشت ګردو د موجودګۍ نه انکار نۀ شي کېدے او دغه خلق نۀ غواړي چې واپس لاړ شي.

دوېمه خبره چې زۀ کومه کول غواړم هغه دا ده چې په دیارلسمه جولایۍ کوم وړومبنے کاروان سوات ته روان شوے وۀ نو یو اخبار لیکلي وو چې د یو څو دهشت ګردو لاشونه په یو څو چوکونو کښې ځوړند کړي شوي وو چې خلق ترې عبرت واخلي او بیا د حکومتي رټ چیلنج کولو کوشش نۀ کوي. ظاهره خبره ده چې دا اقدام به هم د پاکستان فوځ کړے وي. د فوځ د دې اقدام په مخالفت کښې بې د جماعت اسلامي د ښاغلو نه د چا څۀ احتجاجي بیان په اخبارونو کښې زما تر نظره نۀ دے راغلے. د جماعت اسلامي ښاغلي سراج الحق وئیلي دي چې لاشونه ستنو ته ځوړندول د آئین او شریعت خلاف دي او د غندنې قابل عمل دے. لوستونکو ته به یاد وي چې د اپرېشن نه اګاهو به دې دهشت ګردو روزانه یو نه یو تن حلال کړے وۀ او د هغۀ لاش به ئې په ګرین چوک کښې ځوړند کړے وۀ چې پکښې عام خلق او د پولیس او ملېشې اهلکار شامل وو او تر ډېره وخته به دغسې ځوړند وۀ او چا به راکوزولے نۀ شو. خو د جماعت اسلامي د مشرانو له خوا په هغې څۀ احتجاج کول خو لویه خبره چې د اخباري بیان په ذریعه ئې هم غندنه نۀ وه شوې، حالانکې هغه لاشونه به د دې وطن د خلقو وو چې عسکریت پسندو به بې د څۀ وجې حلال کړي وو او لاشونه به ئې ورله ځوړند کړي وو. اوس نۀ پوهېږم چې د عسکریت پسندو د بې ګناه بې خطا مسلمانانو ذبح کول او د هغوي لاشونه بیا په چوکونو کښې ځوړندول د کوم آئین او شریعت مطابق وو چې ښاغلي پرې یوه اوږده خاموشي اختیار کړې وه.